رحمت آریا- کتابخانهٔ آثار علمی و تحقیقی (حبیبیه) ۲۰۲۴/۰۸/۲۴

# دافغانستان په لوی قاموس کې " دپښتونولی دحقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوژیک بنسټ" د کتاب خپرېدل

## نشر کتاب ” اساس ایدیالوژیک نورمهای حقوقی و ارزش های پشتونولی “ در قاموس کبیر افغانستان

کتابخانه آثار علمی و تحقیقی (حبیبه)

| عنوان | بخش | نویسنده/ لیکوال | ملاحظات | دونلود / لینک | نوع محتوا |
|---|---|---|---|---|---|
| پښتونولی | حقوقي | سایر نویسندگان | لیکوال: سراج الحق ببرک زی<br>ایډیټ : رحمت آریا<br>د پښتونولی دحقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوژیک بنسټ | د پښتونولی دحقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوژیک بنسټ | تاریخی-اجتماعی |

د مصحح څو ټکي

پښتونولي د پښتنو د ټولنیز ژوند ژواک یو نالیکل سوی عرفي قانون دئ چي پښتانـهٔ ئـي له زرهاوو کلونو را په دېخوا د خپلو ټولنیزو اړیکو د سمبالولو، د ټولني د نظم د ساتلو، د عدل او انصاف د راوستلو او د ژوند د نورو چارو د سمبالولو لپاره د ژوند په هر اړین پړاو کي پلي کوي. یو د پښتو ژبي ویل دي او بل د پښتو کول دي؛ یعنی د پښتونولی د قانون پلي کول دي. د پښتو کول د ژمني د پلي کولو، د عدل او انصاف د راوستلو په معنی کارول کېږي او دا ډېر ستر اوصاف دي چي یوه ټولنه او وګړي ئـي ورڅخه برخمن وي .

که موږ ورته له تأریخي اړخه وګورو نو په ویدي سرودونو کي د سبها اوسمیتهي د جرګو یادوني لرو او د آریایانو د بهارت قبیلي له ځان سره بهارت یا هندوستان ته یوړلي. جرګي د پښتونولی د قانون تاج دي چي د لرغوني څلانده الماس په شان ئـي پر تندي ځلیږي. دغه جرګي او د جرګو د دود شتون په خپله د پښتونولی د قانون د لرغونتوب او د پښتنو د لرغوني مدنیت او د ټولنیز سیاسي نظام او د مدني ژوند د مدعا اثبات دئ. پښتونولي او د پښتونولی جرګي ټولنیزې، سیاسي او قبیلوي اړیکي له یو بل سره سمبالوي. جرګي دومره منل سوی ځای لري چي ان عدلي پرېکړې په آزاد او دیموکراتیک محضر کي د خلکو د ګډون پر بنسټ کولی سي.
د افغانستان په معاصرو مدني قوانینو کي پښتونولي د عرفي قوانینو په ډله کي یو منل سوی قانون دئ چي د مدني قانون د نـهٔ صراحت په صورت کي پرېکړې د عرفي قانون پر بنسټ کېدای سي .
ښاغلي سراج الحق ببرک زي د پښتونولی د حقوقي نورمونو او ارزښتونو د ایډیالوژیک بنسټ په نوم دا مغتنمه رساله لیکلي ده او په ډېري ښکلي بڼي او اکاډیمیکي هڅي سره ئـي کوښښ کړی چي د پښتونولی د ټولو ارزښتونو ایډیالوژیک بنسټ تشریح کړي؛ که واقعیت وویل سي نو ښاغلي سراج الحق ببرک زي دا کار په بریالی توګه تر سره کړی دئ. د پښتونولی په اړه کورنیو او باندنیو لیکوالانو او مؤرخینو ګڼ شمېـر لیکني کړي دي. زه د خپلي نـیمګړي مطالعي او خبرتیا له مخي ویلی سم چي په دې کچه ژوره او د ټولنپېژندني د اصولو په پام کي نیولو سره بله څېـړنه په دې پوخوالي ما بل چیرې نه ده لوستي. له همدې کبله ول چي دا رساله ما له خپرېدو مخکي ولوستله او په یو شمېـر ځایونو کي مي اصلاحات راوړل.
ددې رسالي لوستل څېـړونکو ته اړین بولم. که څوک وغواړي چي د پښتونولی د نورمونو او ارزښتونو په هکله پلټنه وکړي نو دا رساله ورته زښت ډېر مطالعاتي توکي په لاس ورکوي. زه دا رساله په ځانګړې توګه د حقوقو د پوهنځیو د محصلینو لپاره زښته ډېره مغتنمه او اړینه بولم چي د عرفي قوانینو لوستل ئـي د پوهنځي د درس یوه برخه ده او دا رساله ورسره زښته ډېره مرسته کولی سي. ښاغلی سراج الحق ببرک زی په خپله د افغانستان په داسي یوې پښتني کورنی پورې اړه لري چي د افغانستان په معاصر تأریخ کي د درناوي وړ کورنی ده؛ دی په همداسي یو ننګیالي چاپیریال کي لوی سوی دئ نو ځکه له دهٔ څخه د همداسي یوې رسالي هیله کېدله. ښاغلي سراج الحق ته ددې ښکلي رسالي د لیکلو له کبله مبارکي وایم او ددوی د نورو پنځونو هیله لرم.

**چند نکته قابل ذکر مصحح**

پښتونولي یک قانون عُرفی- غیرمدون زنده گی و طرز زیست پښتونها است که آنها این عُرف و قانون را از هزاران سال بدینسو در مراحل مختلفه غرض تنظیم و اراسته ساختن روابط اجتماعی، حفظ نظم و رعایت عدل و انصاف و سایر موارد به کار میبرند و آن را احترام می گزارند. در جامعه ی پښتونها، یکی گفتار و مکالمه به زبان پشتواست، ولی دومی رعایت و اجرای پشتونولی و عمل نمودن به آن؛ یعنی اجراء و تحقق قانون پښتونولی است. عمل نمودن به( پښتو)، اجراء و به سررسانیدن تعهدات و بوجود آوردن عدل و انصاف میباشد. این یکی از اوصاف بسیار مهم است که افراد یک جامعه از آن برخوردار است.

اگر از لحاظ تاریخی نگاه کنیم، در سرود های ویدی تذکراتی از جرگه های سبها وسمیتهی وجود دارد که آریائی ها و قبیلهٔ بهارت آنها را با خود به بهارت یا هندوستان برده اند. جرگه ها تاج قانون (پښتونولی) است که مانند یک الماس درخشان باستانی درخشش دارد. این جرگه ها و موجودیت عنعنه یی جرگه خود نشاندهندهٔ باستانی بودن قانون پښتونولی، نظام سیاسی و اجتماعی ومدنیت باستانی و کهن جامعهٔ پښتونها را ثابت میسازد. پښتونولی و جرگه های پښتونولی، روابط اجتماعی، سیاسي و قبیلوی را با همدیگر تنظیم و مسجل میسازد. موقف جرگه ها آنقدر مورد تائید و پذیرش است که حتا توسط آن فیصله های عدلی را حضوراً در فضای آزاد و دیموکراتیک با شرکت مردم صادر مینماید.

درقوانین مدنی و معاصر افغانستان پښتونولی در جملهٔ قوانین عرفی یک قانون مورد قبول و پذیرفته شده است که درصورت عدم صراحت قانون مدنی فیصله ها و موضوعات به آن رجعت داده شده و طبق قانون عُرف حکم صادر شده میتواند.

محترم سراج الحق ببرک زی این یک رساله بسیار غنیمت را درمورد نورمهای حقوقی و ارزشهای پښتونولی به نام و به حیث اساس ایدیالوژیک نوشته است و بشکل بسیار مرغوب و تلاش اکادمیک کوشش نموده است تا تمام اساسات ایدیالوژیک تمام ارزشهای پښتونولی را تشریح نماید. اگر به واقعیت بنگریم؛ گفته میتوانیم که محترم سراج الحق ببرک زی این کار را موفقانه به سررسانیده است. مؤرخان و نویسندگان داخلی و خارجی در مورد پښتونولی نوشته ها و تحقیقات زیادی را به سررسانیده اند. اینجانب با اگاهی و مطالعهٔ ناچیز درین مورد گفته میتوانم که هیچ تحقیق دیگر به این اندازه عمیق، گسترده، مطابق اصول جامعه شناسی و دارای پختگی لازم یافت نخواهد شد. بنابر همین دلیل اینجانب این رساله را قبل از نشر مرور نمودم و دربعضی موارد اصلاحاتی را به آن افزودم.

من مطالعهٔ این رساله را برای محققان لازمی میدانم. هرگاه اگر کسی بخواهد که درمورد نورمها و ارزشهای پښتونولی تحقیق نماید، این رساله میتواند که موارد زیادی را برایش بدست دهد. اینجانب این رساله را؛ خصوصاً برای محصلان حقوق یک غنیمت مهم وضروری شمرده و مطالعه قوانین عُرفي را یک بخش از نصاب درسی پوهنځي شان دانسته و این رساله با ایشان کمک بزرگ نموده میتواند. محترم سراج الحق ببرک زی خود به یک خانواده پشتون در افغانستان متعلق اند که در تاریخ معاصر افغانستان یک خانوادهٔ قابل احترام است. ایشان در چنین یک محیط غیرتی و با طهور بزرگ شده اند؛ بناً برهمین دلیل است که ما توقع نوشتن چنین رساله را ازیشان داریم. برای محترم سراج الحق به خاطر نوشتن این رساله زیبا عرض تهنیت و مبارکی گفته و ارزوی سایر تخلیقات شان را دارم.

مترجم دری: پوهاند محمد بشیر دودیال



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ